# په یوکلمې سره
# د
# طلاقو واقع کیدل

Ketabton.com

ناشر

المصباح خیرندویه ټولنه افغانستان

03078420605 ۰۷۹۲۶۶۹۵۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمیع الحقوق محفوظة
للمصنف

مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ « البخاری »

# په یوې کلمې سره د طلاقو واقع کیدل

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتی
محمد زاهد «عزیزخیل»

ناشر

المصباح خپرندویه ټولنه

موبائل ۰۳۰۷-۸۴۲۰۶۰۵ PK
موبائل ۰۷۹۲۶۶۹۵۳۷ AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پیژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | په یوې کلمې سره د طلاقو واقع کیدل |
| لیکوال | شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتی محمد زاهد (عزیزخېل) |
| کمپوز | طیب کمپوزنګ سنټر |
| زیر اهتمام | مولوی محمد بشیر (طیب خېل) المظهري |
| د چاپ کال | 2017 |
| د چاپ شمیر | ۱۰۰۰ ټوکه |
| برېښنايي کوونکی | عزت الله سلطانزی |
| اړیکه | 0706912702 |
| خپرندویه ټولنه | المصباح خپرندویه ټولنه |



دا کتاب دباور کتابتون څخه ښکته شوی

https://Bawar.Net

دنور کتابونو لپاره د باور کتابتون له ویبپاڼې څخه لیدنه وکړی

BAWAR LIBRARY

بــــاور کتـــــابتون

FB:Ezatullah.sultanzai

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى آلِهِ الطَّيِّبِيْنَ وَعَلٰى أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

## د طلاقو تقسيم

د طلاقو په تقسيم او د طلاقو په اقسامو کې اختلاف موجود دى په مابين د فقهاء کې په دې شان چې طلاق په اعتبار د اوصافو سره چې سني کېدل او بدعي کېدل او احسن کېدل او حسن کېدل دي آيا تقسيم دي دوه اقسامو ته او که درې اقسامو ته نو په مابين د فقهاؤ الاحناف کې او په مابين د جمهورو فقهاؤ کې اختلاف موجود دى.

## مذهب د فقهاؤ الاحناف په تقسيم د طلاقو کې

د فقهاء الاحناف مذهب په باره د تقسيم د طلاقو کې دا دى چې دوئ وايي چې طلاق درې اقسامو ته تقسيم دى.

١- احسن طلاق.

٢- حسن طلاق.

٣- بدعى طلاق.

نو فقهاء الاحناف وايي چې اول طلاق تقسيمېږي دوه اقسامو ته چې يو ته طلاق سني ويل کېږي او دوهم ته طلاق بدعي ويل کېږي نو د طلاق سني مطلب دا دى چې دا طلاق موافق د سنت طريقې دى او د سني طلاق دا مطلب نه دى چې د دې طلاق ورکول يو سنت عمل دى ځکه چې طلاق اګرچې حلال او مباح دى خو لېکن دا طلاق په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولوحلالو اومباحاتوکې زيات مبغوض دی الله تعالی ته اوبدعي طلاق مطلب دادی چې داطلاق له سنت طريقې سره موافق نه وي.

قال في الموسوعة الفقهية: قَسَّمَ الْفُقَهَاءُ الطَّلاَقَ مِنْ حَيْثُ وَصْفُهُ الشَّرْعِيُّ إِلَى سُنِّيٍّ وَبِدْعِيٍّ يُرِيدُونَ بِالسُّنِّيِّ: مَا وَافَقَ السُّنَّةَ فِي طَرِيقَةِ إِيقَاعِهِ، وَالْبِدْعِيِّ: مَا خَالَفَ السُّنَّةَ فِي ذَلِكَ، وَلاَ يَعْنُونَ بِالسُّنِّيِّ أَنَّهُ سُنَّةٌ، لِمَا تَقَدَّمَ مِنَ النُّصُوصِ الْمُنَفِّرَةِ مِنَ الطَّلاَقِ، وَأَنَّهُ أَبْغَضُ الْحَلاَلِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى.(١)

## احسن طلاق

فقهاء الاحناف وايي چې بيا داطلاق سني دوه قسمه دی، اول قسم احسن دی اودوهم قسم حسن دی احسن طلاق دېته وايي چې يو سړی خپلې ښځې ته يوطلاق ورکړي په داسې طهرکې چې دې سړي به نه په دې طهرکې له دې ښځې سره جماع کړې وي اونه به دې سړي له طهرنه وړاندې حيض اويانفاس کې جماع کړې وي اوهمدارنګه له دې ښځې سره له مېړه ددې نه غيربل چابه ورسره جماع شبهة نه وي کړې په دې طهرکې اونه په حيض اويانفاس کې چې هغه له دې طهرنه وړاندې وي اوبيا له دې يوطلاق نه بعدبل طلاق نه په دې طهرکې ورکړي اونه په راتلوونکي دوهم اودريم طهرونوکې ورته طلاق ورکړي.

قال في الموسوعة الفقهية: قَسَّمَ الْحَنَفِيَّةُ الطَّلاَقَ إِلَى سُنِّيٍّ وَبِدْعِيٍّ، وَقَسَّمُوا السُّنِّيَّ إِلَى قِسْمَيْنِ: حَسَنٌ وَأَحْسَنُ فَالأَحْسَنُ عِنْدَهُمْ: أَنْ

١ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ٢٩ ص ٣٢. طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويتية

(c) ketabton.com: The Digital Library



يُوقِعَ الْمُطَلِّقُ عَلَى زَوْجَتِهِ طَلْقَةً وَاحِدَةً رَجْعِيَّةً فِي طُهْرٍ لَمْ يَطَأْهَا فِيهِ، وَلاَ فِي حَيْضٍ أَوْ نِفَاسٍ قَبْلَهُ، وَلَمْ يَطَأْهَا غَيْرُهُ فِيهِ بِشُبْهَةٍ أَيْضًا، فَإِنْ زَنَتْ فِي حَيْضِهَا ثُمَّ طَهُرَتْ، فَطَلَّقَهَا لَمْ يَكُنْ بِدْعِيًّا.(١)

## حسن طلاق

فقهاء الاحناف وايي چې حسن طلاق دېته وايي چې يوسړی خپلې ښځې ته يوطلاق رجعي ورکړي په داسې طهرکې چې په هغه طهرکې دې سړي جماع نه وي کړې اونه يې په هغه حيض اويانفاس کې ورسره جماع کړې وي چې هغه له دې طهرنه وړاندې وي اوبيا چې کله دااول طهرتيرشي نوپه دوهم طهرکې دوهم طلاق ورکړي اوجماع ورسره ونه کړي اوبياپه دريم طهرکې ورته دريم طلاق ورکړي اوجماع ورسره ونه کړي.

خولېکن داطلاق حسن دهغې ښځې دی چې حيض ورته ورځي اوهرچې هغه ښځه ده چې هغې ته حيض نه ورځي نودهغې طلاق حسن دادی چې ورته درې طلاقونه ورکړی شي په درې مياشتوکې يعنې په هره مياشت کې ورته يوطلاق ورکړی شي اوهمدارنګه داطلاق حسن دهغې ښځې دی چې له هغې سره دخول شوی وي اوياورسره خلوت صحيحه شوی وي اوهرچې هغه ښځه ده چې نه ورسره دخول شوی وي اونه ورسره خلوت صحيحه شوی وي نودهغې طلاق حسن دادی چې مېړه ورته يوطلاق ورکړي برابره خبره ده که داطلاق په طهرکې وي

---

١ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ٢٩ ص ٣٢. طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که په حيض کې وي او ددې ښځې دا يو طلاق اګرچې طلاق بائن ورنه جوړيږي خولېکن دا ضرر نه رسوي سنې کېدلو ددې طلاق ته ځکه چې د دا سې ښځې طلاق نه وي مګر بائن وي.

قال فى الموسوعة الفقهية: وَأَمَّا الْحَسَنُ: فَأَنْ يُطَلِّقَهَا وَاحِدَةً رَجْعِيَّةً فِي طُهْرٍ لَمْ يَطَأْهَا فِيهِ وَلاَ فِي حَيْضٍ أَوْ نِفَاسٍ قَبْلَهُ، ثُمَّ يُطَلِّقَهَا طَلْقَتَيْنِ أُخْرَيَيْنِ فِي طُهْرَيْنِ آخَرَيْنِ دُونَ وَطْءٍ، هَذَا إِنْ كَانَتْ مِنْ أَهْلِ الْحَيْضِ، وَإِلاَّ طَلَّقَهَا ثَلاَثَ طَلَقَاتٍ فِي ثَلاَثَةِ أَشْهُرٍ، كَمَنْ بَلَغَتْ بِالسِّنِّ وَلَمْ تَرَ الْحَيْضَ.

وَهَذَا فِي الْمَدْخُول أَوِ الْمُخْتَلَى بِهَا، أَمَّا غَيْرُ الْمَدْخُول أَوِ الْمُخْتَلَى بِهَا، فَالْحَسَنُ: أَنْ يُطَلِّقَهَا وَاحِدَةً فَقَطْ، وَلاَ يُهِمُّ أَنْ يَكُونَ ذَلِكَ فِي حَيْضٍ أَوْ غَيْرِهِ، وَلاَ يَضُرُّ أَنَّ طَلاَقَهَا يَكُونُ بَائِنًا؛ لِأَنَّهُ لاَ يَكُونُ إِلاَّ كَذَلِكَ.(١)

**بدعي طلاق:**

کوم طلاق چې په خلاف د سني طلاقو باندې وي هغه بدعي طلاق دی نو ددې بدعي طلاقو لپاره اووه (٧) صورتونه دي.

اول صورت دا دی چې په طهر کې ورته په يوې کلمې سره دوه او يا درې طلاقه ورکړي.

دوهم صورت دا دی چې په يو طهر کې په جدا جدا الفاظو سره دوه او يا درې طلاقه ورکړي برابره خبره ده که په يو وخت کې وي او که په جدا جدا وختونو کې وي.

---

١ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ٢٩ ص ٣٢، طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم صورت دادی چې په حالت د حیض کې ورته طلاق ورکړي.
څلورم صورت دادی چې په حالت د نفاس کې ورته طلاق ورکړي.
پنځم صورت دادی چې په هغه طهر کې ورته طلاق ورکړي چې دې سړي په هغه طهر کې له دې ښځې سره جماع او کوروالی کړی وي.
شپږم صورت دادی چې په هغه طهر کې ورته طلاق ورکړي چې له طهرنه وړاندې چې حیض وي او یا نفاس وي دې سړي له دې ښځې سره په هغه حیض او یا نفاس کې جماع کړې وي.
اووم صورت دادی چې داسړی په داسې الفاظو سره دې ښځې ته طلاق ورکړي چې له هغې نه طلاق بائن جوړېږي.
او دا تفصیل په باره د هغې ښځې کې دی چې هغه حامله نه وي او حیض ورته ورځي او هرچې هغه ښځه ده چې هغه یا حامله وي او یا حیض ورته نه ورځي له دې وجهې نه چې یانا امېده وي یعنې زړه وي او یا وړه وي یعنې بالغه شوې نه وي نو که دوئ سره جماع وکړی شي او بیا ورته طلاق ورکړی شي نو دا طلاق سني دی خو لېکن په دې شرط چې په یوه میاشت کې فقط یو طلاق وي او همدارنګه دا طلاق په داسې الفاظو سره نه وي چې په هغې سره بائنه طلاق واقع کېږي او که چېرته دې قسم ښځو ته په یوه میاشت کې یې دوه طلاقه ورکړل او یا یې ورته بائن طلاق ورکړ نو له دې نه هم بدعي طلاق جوړېږي.
قال في الموسوعة الفقهية: وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَبِدْعِيٌّ عِنْدَهُمْ، كَأَنْ يُطَلِّقَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ مَعًا أَوْ مُتَفَرِّقَاتٍ، أَوْ يُطَلِّقَهَا فِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْحَيْضِ أَوِ النِّفَاسِ، أَوْ يُطَلِّقَهَا فِي طُهْرٍ مَسَّهَا فِيهِ، أَوْ فِي طُهْرٍ مَسَّهَا فِي الْحَيْضِ قَبْلَهُ.

فَإِنْ طَلَّقَهَا فِي الْحَيْضِ، ثُمَّ طَلَّقَهَا فِي الطُّهْرِ الَّذِي بَعْدَهُ، كَانَ الثَّانِي بِدْعِيًّا أَيْضًا؛ لأَنَّهُمَا بِمَثَابَةِ طُهْرٍ وَاحِدٍ، وَعَلَيْهِ أَنْ يَنْتَظِرَ حَيْضَهَا الثَّانِيَ، فَإِذَا طَهُرَتْ مِنْهُ طَلَّقَهَا إِنْ شَاءَ، وَيَكُونُ سُنِّيًّا عِنْدَ ذَلِكَ، وَلَوْ طَلَّقَهَا فِي الْحَيْضِ، ثُمَّ ارْتَجَعَتْ، ثُمَّ طَلَّقَهَا فِي الطُّهْرِ الَّذِي بَعْدَهُ كَانَ بِدْعِيًّا فِي الأَرْجَحِ، وَهُوَ ظَاهِرُ الْمَذْهَبِ، وَقَالَ الْقُدُورِيُّ: يَكُونُ سُنِّيًّا.

وَهَذَا كُلُّهُ مَا لَمْ تَكُنْ حَامِلاً، أَوْ صَغِيرَةً دُونَ سِنِّ الْحَيْضِ، أَوْ آيِسَةً، فَإِنْ كَانَتْ كَذَلِكَ كَانَ طَلاَقُهَا سُنِّيًّا، سَوَاءٌ مَسَّهَا أَمْ لَمْ يَمَسَّهَا؛ لأَنَّهَا فِي طُهْرٍ مُسْتَمِرٍّ، وَلَكِنْ لاَ يَزِيدُ عَلَى وَاحِدَةٍ، فَإِنْ زَادَ كَانَ بِدْعِيًّا.[1]

## مذهب دجمهورو په تقسيم دطلاقوكې:

جمهور فقهاء يعنې شوافع اومالكيه اوحنابله وايي چې دطلاق لپاره فقط دوه قسمونه دي، اول قسم طلاق سني دی اودوهم قسم طلاق بدعي دی نوطلاق سني دوئ هغه طلاق ته وايي چې احنافو كوم طلاق ته طلاق سني ويل يعنې هغه طلاق سني طلاق دی چې واقع كړى شي موافق دسنت اوطلاق بدعي هم دوئ هغه طلاق ته وايي چې احناف فقهاء ورته بدعي وايي چې داهغه طلاق دی چې ددې واقع كول موافق دسنت نه وي.

---

١ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ٢٩ ص ٢٤. طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيا جمهور تقسيم د طلاق سني احسن او حسن ته نه کوي بلکه دا احسن او حسن دواړه داخلول په سني طلاق کې او دواړه په يوه مرتبه کې بولي او د اقسم احسن نه ګرځوي له هغه بل قسم نه.

قال في الموسوعة الفقهية: وَقَسَّمَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ الطَّلاَقَ مِنْ حَيْثُ وَصْفُهُ الشَّرْعِيُّ إِلَى سُنِّيٍّ وَبِدْعِيٍّ، وَلَمْ يَذْكُرُوا لِلسُّنِّيِّ تَقْسِيمًا، فَهُوَ عِنْدَهُمْ قِسْمٌ وَاحِدٌ خِلاَفًا لِلْحَنَفِيَّةِ.(۱)

## بعضې صورتونه له بدعي طلاق نه خارجول:

په حيض کې چې کوم طلاق مېړه ښځې ته ورکړي نو دا اګرچې بدعي طلاق دی خو لېکن بعضې صورتونه د احنافو فقهاؤ په نزد باندې له دې نه خارج دي او دا غونډ پنځه صورتونه دي.

اول صورت خلع ده چې په حالت د حيض کې وشي.

دوهم صورت طلاق على مال دی چې په حالت د حيض کې ورکړی شي.

دريم صورت له څه وجهې نه د ښځې او مېړه په مابين کې تفريق دی چې دا تفريق راوستلی شي په حالت د حيض کې.

څلورم صورت دا دی چې مېړه ښځې ته اختيار د طلاقو ورکړي بيا که ښځه په حالت د حيض ځان طلاق کړي او که په حالت د طهر کې ځان طلاق کړي.

---

۱ ـ الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ۲۹ ص ۲٤، طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم صورت دادی چې دا ښځه ځان غوره کړي يعنې ځان طلاق کړي برابره خبره ده که مېړه دېته په حيض کې اختيار د طلاقو ورکړی وي او که مېړه ورته په طهر کې اختيار د طلاقو ورکړی وي.

نو په دې پنځه صورتونو کې اګرچې طلاق او جدا والی په حالت د حيض کې دی خولېکن فقهاء الاحناف وايي چې په دې صورتونو کې چې کوم طلاق واقع کېږي دا بدعي نه دی بلکه داسني دی او حسن طلاق دی.

قال فى الموسوعة الفقهية: وَاسْتَثْنَى الْحَنَفِيَّةُ مِنَ الْبِدْعِيِّ عَامَّةً: الْخُلْعَ، وَالطَّلاَقَ عَلَى مَالٍ، وَالتَّفْرِيقَ لِلْعِلَّةِ، فَإِنَّهُ لاَ يَكُونُ بِدْعِيًّا وَلَوْ كَانَ فِي الْحَيْضِ، لِمَا فِيهِ مِنَ الضَّرُورَةِ، وَكَذَلِكَ تَخْيِيرُهَا فِي الْحَيْضِ سَوَاءٌ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا فِي الْحَيْضِ أَمْ بَعْدَهُ وَكَذَلِكَ اخْتِيَارُهَا نَفْسَهَا فِي الْحَيْضِ، سَوَاءٌ أَخَيَّرَهَا فِي الْحَيْضِ أَمْ قَبْلَهُ، فَإِنَّهُ لاَ يَكُونُ بِدْعِيًّا لأَِنَّهُ لَيْسَ مِنْ فِعْلِهِ الْمَحْضِ.(١)

## په بعضو صورتونو کې اختلاف په سني توب او بدعي توب د طلاقو کې:

دوه صورتونه داسې دي چې په هغې کې اختلاف موجود دی چې په دې صورتونو کې دا طلاق سني طلاق دی او که بدعي طلاق دی.

اول صورت دادی چې يو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي په درې طهرونو کې يعنې په هر طهر کې ورته يو يو طلاق

---

١ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ٢٩ ص ٣٤، طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي نو په دې صورت کې د اطلاق فقهاء الاحناف وايي چې سني طلاق دی او جمهور وايي چې دا بدعي طلاق دی.

دوهم صورت دا دی چې يو سړی خپلې ښځې ته په يو طهر کې درې طلاقه ورکړي چې په دې طهر کې دې سړي جماع نه وي کړې نو شوافع وايي دا سني طلاق دی او له حنابله ؤ نه هم يو روايت دا راغلی دی چې دا سني طلاق دی او حنفيه او مالکيه وايي چې دا بدعي طلاق دی او د حنابله ؤ روايت هم دا سې راغلی دی چې دوئ وايي چې دا بدعي طلاق دی.

قال فی الموسوعة الفقهية: أَنَّ الطَّلاَقَ الثَّلاَثَ فِي ثَلاَثِ حَيْضَاتٍ سُنِّيٌّ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ، وَهُوَ بِدْعِيٌّ عِنْدَ الْجُمْهُورِ، وَكَذَلِكَ الطَّلاَقُ ثَلاَثًا فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ لَمْ يُصِبْهَا فِيهِ، فَإِنَّهُ سُنِّيٌّ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ أَيْضًا، وَهُوَ رِوَايَةٌ عِنْدَ الْحَنَابِلَةِ.(١)

**تنبيه**: په وخت د ليکلو د دې بحث کې د الموسوعة الفقهية کې چې کومه نسخه زمونږ په وړاندې موجوده ده په هغې کې دا سې عبارت ذکر دی «ان الطلاق الثلاث فی ثلاث حيضات» نو په دې عبارت کې خطائي ده حق دا ده چې «ان الطلاق الثلاث فی ثلاث اطهار» يعنې صحيح دا ده چې د حيضات په ځای باندې اطهار ذکر شي ځکه چې په حيض کې طلاق ورکول خو بالاتفاق بدعي طلاق دي.

---

١ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ٢٩ ص ٢٤، طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وجه لپاره د کېدلو د بعضو صورتونو د طلاق سني او بعضو بدعي:

وړاندې چې کوم صورتونه د طلاق ذکر شول نو په هغه صورتونو کې بعضې داخل وه په سني طلاقو کې يعنې دې بعضو صورتونو ته سني طلاق ويل کېدل او بعضې نور صورتونه داخل وه په بدعي طلاق کې هغوئ ته بدعي طلاق ويل کېدل د دې لپاره وجوه او دلائل شته.

اول دليل دا قول دالله تعالى دى:

يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ، الآية.(۱)

د دې آيت تفسير حضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه داسې کړى دى چې مراد له طلاق ورکولو نه ښځو ته په عدت کې دا دى چې دا طلاق ورته ورکړى شي په طهر کې چې په هغه طهر کې له دې ښځې سره جماع نه وي شوې اوهمدغه شان تفسير د دې آيت له حضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنه نه رانقل شوى دى.

قال فى الموسوعة الفقهية: وَالْمَدَارُ عَلَى مَعْرِفَةِ السُّنِّيِّ وَالْبِدْعِيِّ مِنَ الطَّلاَقِ الْقُرْآنُ وَالسُّنَّةُ، أَمَّا الْقُرْآنُ فَقَوْلُهُ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ} الآية وَقَدْ فَسَّرَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ذَلِكَ بِأَنْ يُطَلِّقَهَا فِي طُهْرٍ لاَ جِمَاعَ فِيهِ، وَمِثْلُهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا.(۲)

---

۱ - سورة الطلاق آيت ۱.

۲ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ۲۹ ص ۲۵. طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم دليل هغه حديث دی چې هغه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهماروايت کړی دی حضرت عبدالله ابن عمررضی الله عنهما وايي چې ماخپلې ښځې ته طلاق ورکړو په داسې حال کې چې داښځه حائضه وه نودې په باره کې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه پوښتنه وکړه له پيغمبرصلی الله عليه وسلم نه نوپيغمبرصلی الله عليه وسلم ورته وويل چې ته دې ځوی ته حکم وکړه چې رجوع دې وکړي دې ښځې ته اوبياله رجوع کولونه بعد دې داښځه خوشې کړي تردې پورې چې داله دې حيض نه پاکه شي اوبياورته حيض ورشي اوبياپاکه شي نوبياپه دې دوهم طهرکې که چېرته خوښه يې وي داښځه دې ځان سره بنده کړي يعني طلاق دې نه ورکوي اوکه يې خوښه وي طلاق دې ورته ورکړي خولېکن په دې شرط چې له دې طلاق نه وړاندې يې په دې طهرکې ورسره جماع نه وي کړې.

نوله دې حديث نه معلومېږي چې په حيض کې طلاق ورکول بدعت دی اوګناه ده اوپه طهرکې طلاق ورکول سنت دي.

قال فی الموسوعة الفقهية: وَأَمَّا السُّنَّةُ فَمَا رَوَاهُ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، فَسَأَل عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَقَال لَهُ رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا، ثُمَّ لِيَتْرُكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ، ثُمَّ تَحِيضَ، ثُمَّ تَطْهُرَ، ثُمَّ إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ بَعْدُ وَإِنْ شَاءَ طَلَّقَ قَبْل أَنْ يَمَسَّ، فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ أَنْ يُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ.(۱)

---

۱ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ۲۹ ص ۲۵ ، طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم دليل اثر د عبدالله بن مسعود رضى الله عنه دى هغه وايي چې سنت طلاق دادى چې يو سړى خپلې ښځې ته يو طلاق وركړي په طهر كې چې په هغه طهر كې يې ورسره جماع نه وي كړې او بيا چې كله دې ښځې ته حيض ورشي او بيا ورته طهر ورشي بل طلاق وركړي او بيا په دريم ځل چې ورته حيض ورشي او بيا چې كله ښځه پاكه شي نو ورته دريم طلاق وركړي.

نو له دې حديث او اثر د حضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه نه معلومېږي چې په هر طهر كې يو يو طلاق وركول سنت طلاق دي.

وَمَا وَرَدَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: طَلَاقُ السُّنَّةِ تَطْلِيقَةٌ وَهِيَ طَاهِرٌ فِي غَيْرِ جِمَاعٍ، فَإِذَا حَاضَتْ وَطَهُرَتْ طَلَّقَهَا أُخْرَى، فَإِذَا حَاضَتْ وَطَهُرَتْ طَلَّقَهَا أُخْرَى، ثُمَّ تَعْتَدُّ بَعْدَ ذَلِكَ بِحَيْضَةٍ، المغني ٧ / ٢٩٨، و أثر عبد الله بن مسعود: طلاق السنة تطليقة، أخرجه النسائي (٦ / ١٤٠). (١)

څلورم دليل عقلي دليل دى او هغه دادى چې دې كومو صورتونو ته مونږ سني طلاق ويلي دي نو په دې كې پښېمانتيا هم نه وي ځكه چې رجوع ممكنه وي او او ګډېدل د عدت هم نه وي نو ځكه دا سني طلاق ګرځول شوي دي او دا كوم صورتونه چې بدعي طلاق ګرځول شوي دي نو په دې كې يا ندم او پښېمانتيا وي له دې وجهې نه چې رجوع نه وي ممكنه بلكه يا تجديد د نكاح غواړي او يا تحليل

(١) ـ الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ٢٩ ص ٢٥. طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي اوياپه کې اوګدوالی دعدت وي په دې ښځه باندې نوله دې وجهې نه دابدعي ګرځول شوي دي.

قال فى الموسوعة الفقهية: وَالْمَعْنَى الْعَامُّ فِي السُّنِّيِّ وَالْبِدْعِيِّ، أَنَّ السُّنِّيَّ يَمْنَعُ النَّدَمَ، وَيُقَصِّرُ الْعِدَّةَ عَلَى الْمَرْأَةِ فَيَقِل تَضَرُّرُهَا مِنْ الطَّلاَقِ. (۱)

## په يوې کلمې سره د درې طلاقو واقع کېدل:

کوم سړی چې خپلې ښځې ته په يوې کلمې سره درې طلاقه واچوي يعنې ورته ووايي انت طالق ثلاثاً اوياپه پښتوکې ورته ووايي چې ته دې په درې طلاقوباندې طلاقه يې اوياپه فارسي کې ورته ووايي که توبه سه طلاق ازطرف من طلاق باشيد نوپه وقوع د طلاقوکې په دې صورت کې اختلاف واقع دی په دې شان چې په دې کې درې مذاهب دي، اول مذهب دآيمه اربعه ؤ او اهل ظواهرو دی دوئ وايي چې په يوې کلمې سره درې طلاقه چې واچول شي دا واقع کېږي نوپه دې طلاقوسره به درې طلاقه واقع کېږي اودا ښځه به مغلظه کېږي اوبغيرله تحليل نه ددې سړي لپاره نه ده حلاله اوپه دې باندې قول کړی دی حضرت عمرفاروق اوحضرت عثمان اوحضرت علی بن ابی طالب او ابن عمر اوعبدالله بن عمروبن العاص اوابن عباس او ابن مسعود او ابی هريرة رضی الله عنهم اوهمدارنګه له اکثروصحابه ؤ اوله اکثرو تابعينونه دارانقل دي.

اودوهم مذهب ديوې ډلې دشيعه ګانو دی هغوئ وايي چې درې طلاقه چې په يوه کلمه باندې واچول شي دانه واقع کېږي بلکه

---

۱ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ۲۹ ص ۲۵، طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الفظ لغوه كېږي نه وربانديې يوطلاق واقع كېږي اونه ورباندې درې طلاقه واقع كېږي.

دريم مذهب ديوې ډلې دشيعه ګانو دى چې هغوئ ته زيديه وايي اودبعضې اهل ظواهرو دى او د ابن اسحاق اود ابن تيميه دى اود ابن القيم دى نودوئ وايي چې په هغه صورت كې چې په يوې كلمې باندې درې طلاقه واچوي نوله دې نه يوطلاق جوړېږي اودرې طلاقه نه واقع كېږي بلكه يوطلاق واقع كېږي.

قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: أقوال الفقهاء في الطلاق الثلاث بلفظ واحد:

للفقهاء آراء ثلاثة في جمع الطلاق الثلاث بكلمة واحدة وهي.

الأول ـ قول الجمهور منهم أئمة المذاهب الأربعة والظاهرية: يقع به ثلاث طلقات، وهو منقول عن أكثر الصحابة ومنهم الخلفاء الراشدون غير أبي بكر، والعبادلة الأربعة (ابن عمر، وابن عمرو، وابن عباس، وابن مسعود) وأبو هريرة وغيرهم، ومنقول عن أكثر التابعين، لكن لا يسن أن يطلق الرجل أكثر من واحدة عند الحنفية والمالكية كما تقدم؛ لأن طلاق السنة: هو أن يطلقها واحدة ثم يتركها حتى تنقضي عدتها.

الثاني ـ قول الشيعة الإمامية: لا يقع به شيء.

الثالث ـ قول الزيدية وبعض الظاهرية وابن إسحاق وابن تيمية وابن القيم: يقع به واحدة، ولا تأثير للفظ فيه. (١)

---

١ ـ الفقه الاسلامى وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانى انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ٩ ص ٦٩٢٧ ، ٦٩٢٨ ، طبع نشر احسان طهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داول مذهب دلائل:

په دې درې مذاهبو کې راجح اول مذهب دی چې مذهب د جمهورو دی نو په دې مقام کې مونږ اول د دې اول مذهب دلائل ذکر کوو.

## اول دليل:

د جمهورو لپاره اول دليل په دې خبره باندې چې درې طلاقه چې په يوه کلمه باندې ورکړی شي نو دا درې واړه واقع کيږي دا قول د الله تعالی دی:

يَاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَ اَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ؕ وَ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَ مَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ۝.(۱)

د دې په اول کې چې دا امر راغلی دی چې: فطلقوهن لعدتهن نو د دې تفسير له حضرت عبدالله بن مسعود او له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه داسې رانقل شوی دی چې تاسې د دې ښځو ته طلاق ورکړئ په داسې طهر کې چې په هغه کې جماع نه وي شوې نو په يو طهر کې به يو طلاق وي او بيا په دې آيت کې چې: تلك حدود الله راغلی دی مراد له ورنه طلاق للعدة دی نو د اتعدی او تجاوز له حدود الله نه دا دی چې يو سړی طلاق ورکړي لغير العدة چې هغه عبارت دی له دې

---

۱- سورة الطلاق آيت ۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چې په يو طهر کې ورته درې طلاقه ورکړي نو. اوس په آخر د دې آيت کې چې: فقد ظلم نفسه راغلی دی له دې نه معلومېږي چې دا درې طلاقه واقع دي ځکه چې که چېرته دا درې طلاقه نه وای واقع نو بيا به الله تعالی دې انسان ته د دې نسبت نه کولو چې ده له ځان سره ظلم وکړو ځکه چې ظلم خو په هغه صورت کې راځي چې دده په دې طلاقو ورکولو سره اثر مرتب شي چې هغه وقوع دی.

ومنه {فطلقوهن لعدتهن} [الطلاق:١/٦٥] إلى قوله تعالى: {وتلك حدود الله، ومن يتعدّ حدود الله فقد ظلم نفسه} [الطلاق:١/٦٥] والطلاق المشروع ما يعقبه عدة، وهو منتف في إيقاع الثلاث في العدة، وفيها دلالة على وقوع الطلاق لغير العدة، إذ لو لم يقع لم يكن ظالماً لنفسه بإيقاعه لغير العدة، ومن لم يطلق للعدة بأن طلق ثلاثاً مثلاً، فقد ظلم نفسه.(١)

قال في الموسوعة الفقهية: أَمَّا الْقُرْآنُ فَقَوْلُهُ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ} [الطلاق: ١] وَقَدْ فَسَّرَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ذَلِكَ بِأَنْ يُطَلِّقَهَا فِي طُهْرٍ لاَ جِمَاعَ فِيهِ، وَمِثْلُهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا.(٢)

---

١ - الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانی انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج٩ ص ٦٩٢٧، ٦٩٢٨، طبع نشر احسان طهران ايران

٢ - الموسوعة الفقهية حرف الطاء بحث الطلاق ج ٢٩ ص ٢٥، طبع وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية الكويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم دليل:

د جمهورو د مذهب د اثبات لپاره دوهم دليل دا قول د الله تعالى دى:

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمۡسَاكٌۢ بِمَعۡرُوۡفٍ اَوۡ تَسۡرِيۡحٌۢ بِاِحۡسَانٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَكُمۡ اَنۡ تَاۡخُذُوۡا مِمَّاۤ اٰتَيۡتُمُوۡهُنَّ شَيۡـًٔا اِلَّاۤ اَنۡ يَّخَافَاۤ اَلَّا يُقِيۡمَا حُدُوۡدَ اللّٰهِ ؕ فَاِنۡ خِفۡتُمۡ اَلَّا يُقِيۡمَا حُدُوۡدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَا فِيۡمَا افۡتَدَتۡ بِهٖ ؕ تِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ فَلَا تَعۡتَدُوۡهَا ۚ وَمَنۡ يَّتَعَدَّ حُدُوۡدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓـئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿۲۲۹﴾ فَاِنۡ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنۡۢ بَعۡدُ حَتّٰى تَنۡكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهٗ ؕ فَاِنۡ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَاۤ اَنۡ يَّتَرَاجَعَاۤ اِنۡ ظَنَّاۤ اَنۡ يُّقِيۡمَا حُدُوۡدَ اللّٰهِ ؕ وَتِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۳۰﴾.(۱)

نو په دې دوهم آيت کې چې ويل شوي دي چې: فان طلقها فلاتحل له من بعد نو ددې مطلب دادی چې له دوه طلاقونه بعد که چيرته ورته دريم طلاق ورکړي نو بيا دا ښځه مغلظه جوړېږي نو په دې کې دا بيان نه دی موجود چې دادريم طلاق به له اولو دوه طلاقونه سره وي اوکه به ورنه په جدا طهرکې وي نو له دې نه معلومېږي چې په يو طهرکې درې طلاقونه ورکړي نو دا واقع کېږي.

---

۱ - سورة البقرة آيت ۲۲۹، ۲۳۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال في الفقه الاسلامي وادلته: ثم إن قوله تعالى: {فلا تحل له من بعدُ حتى تنكح زوجاً غيره} [البقرة:۲۳۰/۲] يدل على تحريمها عليه بالثالثة بعد الاثنتين، ولم يفرق بين إيقاعهما في طهر واحد أو في أطهار. (۱)

**دريم دليل:**

د جمهورو د مذهب د اثبات لپاره دريم دليل د اقول د الله تعالى دى:

وَلِلْمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعٌۢ بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿۲۴۱﴾.(۲)

ددې آيت او ددې په شان د نورو مطلقو آياتونو له اطلاق نه داسې رامعلومېږي چې مطلقه هرهغه ښځې ته وايي چې ورباندې طلاق واقع شوى وي فرق نشته که يو طلاق وي او که دوه طلاقه وي او که درې نوچې هرقسم طلاق ورباندې اچول شوى وي شريعت کې ورته مطلقه او مطلقات وايي.

**څلورم دليل:**

د جمهورو د مذهب د اثبات لپاره څلورم دليل حديث د سهل بن سعد دى چې دا روايت کړى دى امام بخارى او امام مسلم په قصه د لعان د عويمر عجلان کې سهل بن سعد ويلي دي:

فَلَمَّا فَرَغَا، قَالَ عُوَيْمِرٌ: كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ أَمْسَكْتُهَا، فَطَلَّقَهَا ثَلاَثًا، قَبْلَ أَنْ يَأْمُرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.(۳)

---

۱ - الفقه الاسلامى وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانى انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ۹ ص ۶۹۲۱ طبع نشر احسان طهران ايران

۲ - سورة البقرة آيت ۲۴۱.

۳ - فتح البارى ج ۹ ص ۲۹۱.

صحيح المسلم وعليه شرح النووى ج ۱۰ ص ۱۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال الامام النووی: وَاسْتَدَلَّ بِهِ أَصْحَابُنَا عَلَى أَنَّ جَمْعَ الطَّلَقَاتِ الثَّلَاثِ بِلَفْظٍ وَاحِدٍ لَيْسَ حَرَامًا وَمَوْضِعُ الدَّلَالَةِ أَنَّهُ لَمْ يُنْكِرْ عَلَيْهِ إِطْلَاقَ لَفْظِ الثَّلَاثِ.(١)

نوله دې وړاندې حديث نه دا رامعلومېږي چې که چېرته يو سړی په يوې کلمې سره درې طلاقه ورکړي نو دا واقع کېږي ځکه چې که چېرته نه واقع کېدلی نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم به په دې عويمر عجلانی باندې انکار کړی وه چې درې طلاق ورکول په يوې کلمې باندې لغوه دي او حال دا دی چې څه انکار يې ورباندې ونه کړ ځکه چې د دې عويمر درې طلاقه ور اچول اګرچې بې ځايه وه ځکه چې له لعان نه بعد طلاق نه وي خو لېکن بيا هم که چيرته په يوې کلمې سره درې طلاق نه واقع کېدلی نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم به لپاره د ارشاد او د پوهولو لپاره انکار ورباندې کړی وه.

**پنځم دليل:**

د جمهورو لپاره په اثبات د مذهب د دوئ کې چې په يوې کلمې سره چې درې طلاقه واچول شي واقع کېږي پنځم دليل حديث د حضرت عائشه رضی الله عنها دی چې هغه حديث را نقل کړی دی امام بخاری او امام مسلم رحهما الله.

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها: أَنَّ رَجُلًا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا، فَتَزَوَّجَتْ فَطَلَّقَ، فَسُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَحِلُّ لِلْأَوَّلِ؟ قَالَ: «لَا، حَتَّى يَذُوقَ عُسَيْلَتَهَا كَمَا ذَاقَ الأَوَّلُ».(٢)

---

١ - شرح النووی علی مسلم ج١٠ ص ١٢٢.

٢ - فتح الباری ج ٩ ص ٢٠١.

عمدة القاری ج ٩ ص ٥٤١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او طريقه د استدلال په دې حديث باندې داده چې دا حديث ذکر کړی دی امام بخاری رحمه الله لاندې له دې ترجمة الباب نه:
بَابُ مَنْ أَجَازَ طَلَاقَ الثَّلَاثِ.
نوله دې کار او معاملې د امام بخاری رحمه الله نه دا را معلومېږي چې مراد له درې طلاقو نه په دې حديث کې هغه صورت دی چې په يوې کلمې سره ورته درې طلاقه ورکړي او همدارنګه علامه ابن حجر او علامه بدرالدين عينی وايي: هو ظاهر فی کونها مَجْمُوعَة.(١)

**شپږم دليل:**

د جمهورو د مذهب د اثبات لپاره شپږم دليل حديث د حضرت علی ابن ابی طالب رضی الله عنه دی چې هغه را نقل کړی دی امام دارقطني رحمه الله:

عَنْ علي رضى الله عنه قال: سمع النبي صلى الله عليه وسلم رجلا طلق ألبتة فغضب، وقال «أتتخذون آيات الله هزوا أو دين الله هزوا أو لعبا، من طلق ألبتة ألزمناه ثلاثا لا تحل له حتى تنكح زوجها غيره.(٢)

دا حديث واضح دی په دې خبره کې چې يو سړی درې طلاقه واچوي په يوې کلمې سره نو دا کار د دې سړي اګرچې معصيت او ګناه ده خو لېکن دا دارې وارِه طلاقه واقع کېږي.

---

١ - فتح الباری ج ۹ ص ۲۰۱.

عمدة القاری ج ۹ ص ۵۴۱.

٢ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم دليل:

دجمهورو لپاره اووم دليل لپاره د اثبات دمذهب ددوئ چې په يوې کلمې باندې درې طلاقه وزکړی شي نودا درې واړه واقع کېږي حديث دحضرت معاذبن جبل رضی الله عنه دی.

روى الدارقطني من حديث حماد بن زيد، حدثنا عبد العزيز بن صهيب عن أنس قال: سمعت أنس بن مالك يقول، سمعت معاذ بن جبل يقول سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «يا معاذ من طلق للبدعة واحدة أو اثنتين أو ثلاثا ألزمناه بدعته».(١)

اوداحديث روايت کړی دی امام دارقطنی اوداحديث ظاهر او واضح دی په دې خبره کې چې يوسړی درې طلاقه په طريقې دبدعت سره ورکړي په دې شان چې درې طلاقه خپلې ښځې ته په يوې کلمې سره ورواچوي دا واقع کېږي.

## اتم دليل:

د جمهورو د مذهب د اثبات لپاره اتم دليل حديث دعبادة بن الصامت رضی الله عنه دی چې هغه حديث امام دارقطنی رحمه الله روايت کړی دی.

روى الدارقطني من حديث إبراهيم بن عبيد الله بن عبادة بن الصامت عن أبيه عن جده، قال: « طلق بعض آبائي امرأته ألفا فانطلق بنوه إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا يا رسول الله

---

١ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٥٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



إن أبانا طلق امرأته ألفا، فهل له من مخرج؟ فقال: إن أباكم لم يتق الله فيجعل له مخرجا، بانت منه بثلاث على غير السنة وتسعمائة وسبعة وتسعون إثم في عنقه».[۱]

نوداحديث واضح دی په دې خبره کې چې درې طلاقه واچول شي په يوې کلمې سره نوداطلاق اچول اگرچې خلاف سنت دي خولېکن بياهم واقع کېږي.

**نهم دليل:**

دجمهورو دمذهب داثبات لپاره نهم دليل حديث درکانة بن عبديزيد دی اوداحديث امام شافعي او امام ابوداود او امام الترمذی او ابن ماجه او ابن حبان او امام حاکم روايت کړی دی اوداحديث ذکرکړی دی وهبة الزحيلی په خپل کتاب الفقه الاسلامی وادلته کې په دې الفاظوسره.

ومنها ـ حديث ركانة بن عبد يزيد المتقدم أنه طلق امرأته سهيمة البتة، فأخبر النبي صلّى الله عليه وسلم، وقال: والله ما أردتُ إلا واحدة، فقال رسول الله صلّى الله عليه وسلم: «والله ما أردتَ إلا واحدة؟» قال ركانة: والله ما أردتُ إلا واحدة، فردها إليه رسول الله صلّى الله عليه وسلم.[۲]

---

۱ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٥٦، تاليف هيئة كبا العلماء من السعودية

۲ - الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانی انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ۹ ص ٦۹۲۲ طبع نشر احسان طهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوله دې حديث نه دا رامعلومېږي چې که چېرته دې رکانه بن عبد يزيد په دې خپل لفظ باندې اراده د درې طلاقو کړې واى نو درې طلاقه واقع کېدل.

**لسم دليل:**

د جمهورو د مذهب د اثبات لپاره لسم دليل اثر او فتوى د حضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنهما ده چې هغه اثر او فتوى امام ابوداود په سنن ابى داود کې روايت کړې ده او په الفقه الاسلامى وادلته کې په دې الفاظو سره رانقل شوې ده.

عن مجاهد، قال: «كنت عند ابن عباس، فجاءه رجل، فقال: إنه طلق امرأته ثلاثاً، فسكت حتى ظننت أنه ردها إليه، ثم قال: ينطلق أحدكم فيركب الحموقة، ثم يقول: يا ابن عباس، وإن الله قال: {ومن يتق الله يجعل له مخرجاً} [الطلاق:٢/٦٥] ، وإنك لم تتق الله، فلم أجد لك مخرجاً، عصيت ربك، وبانت منك امرأتك». [1]

نو په دې فتوى کې حضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنهما حکم کړى دى چې دا درې طلاق واقع دي او دا ښځه له دې سړي نه جدا ده.

**يوولسم دليل:**

د جمهورو د مذهب د اثبات لپاره يوولسم دليل فتوى د حضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه ده چې دده دا فتوى روايت کړې ده

---

۱ - الفقه الاسلامى وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانى انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ۹ ص ۶۹۲۳ طبع نشر احسان طهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مالك په خپل كتاب موطاء امام مالك كې اوددې فتوى الفاظ په الفقه الاسلامى وادلته كې داسې رانقل شوي دي.

ومنها ـ ما روى مالك في الموطأ أن رجلاً جاء إلى ابن مسعود، فقال: إني طلقت امرأتي ثماني تطليقات، فقال: ما قيل لك؟ فقال: قيل لي: بانت منك، قال: هو مثل ما يقولون. (١)

نوپه دې فتوى كې حكم كړى شوى دى په بينونت اوجداوالى باندې اوكه چېرته يوطلاق رجعي وربانديې واقع كېدلى بياخوبينونت اوجداوالى نه راتلو.

**دولسم دليل:**

دجمهورو دمذهب داثبات لپاره دولسم دليل فتوى دحضرت عثمان بن عفان رضى الله عنه ده اودفتوى روايت كړې ده ابن ابى شيبة په خپل مصنف كې اودافتوى وهبة الزحيلي ذكركړې ده په الفقه الاسلامى كې په دې عبارت او الفاظو سره.

ومنها ـ ما أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه: «أن رجلاً جاء إلى عثمان بن عفان، فقال: إني طلقت امرأتي مئة، فقال: ثلاث تحرمها عليك، وسبع وتسعون عدوان». (٢)

---

١ ـ الفقه الاسلامى وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانى انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ٩ ص ٦٩٢٤ طبع نشر احسان طهران ايران

٢ ـ الفقه الاسلامى وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانى انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ٩ ص ٦٩٢٤ طبع نشر احسان طهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسم دلیل:

دجمهورو دمذهب داثبات لپاره دیارلسم دلیل حدیث دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهمادی اوهغه حدیث روایت کړی دی امام دارقطنی اوهمدارنګه هغه ذکر کړی دی علامه شوکانی په خپل کتاب نیل الاوطارکې اوداحدیث په الفقه الاسلامی وادلته کې په دې عبارت او الفاظوسره ذکردی.

ومما جاء في السنة في قصة ابن عمر الذي طلق امرأته في أثناء الحيض: أنه قال: «يا رسول الله، أرأيت لو طلقتُها ثلاثاً، أكان يحل لي أن أراجعها؟ قال: لا، كانت تبين منك، وتكون معصية». [1]

نوداوړاندې حدیث واضح دی په دې خبره کې چې که چېرته درې طلاقه په یوه کلمه باندې واچول شي نودرې واړه واقع کېږي.

## څوارلسم دلیل:

دجمهورو دمذهب داثبات لپاره څوارلسم دلیل اثر دحضرت عمربن الخطاب رضی الله عنه دی چې له هغې نه معلومېږي چې کوم سړی درې طلاقه په یولفظ باندې واچوي نودا درې واړه واقع کېږي اوله دېنه یو طلاق رجعي نه جوړېږي.

---

۱ - نیل الاوطارج ٦ ص ۲۲۷ ، ۲۲۸.

الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانی انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ۹ ص ٦۹۲۹ طبع نشر احسان طهران ایران

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال ابن أبي شيبة في مصنفه: نا علي بن مسهر، عن شقيق بن أبي عبد الله، عن أنس قال: كان عمر إذا أتى برجل قد طلق امرأته ثلاثا في مجلس أوجعه ضربا وفرق بينهما.(۱)

نوله دې وړاندې اثر نه رامعلومېږي چې درې طلاقه چې په يوځل باندې ورکړی شي بيا واقع کېږي اويو رجعي طلاق ورنه نه جوړېږي اوکه چيرته له دې نه يورجعي طلاق جوړېدای نوبيابه عمربن الخطاب رضی الله عنه ددې ښځې اوسړي په مابين کې جدايي نه راوستله اوحال دادی چې حضرت عمربن الخطاب رضی الله عنه به دا ښځه جدا کوله له دې مېړه نه.

**پنځلسم دليل:**

دجمهورو دمذهب داثبات لپاره پنځلسم دليل فتوی دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه ده چې هغه فتوی ورکړې ده چې کوم سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي نو دادرې واړه واقع کېږي اوله دې نه يو طلاق رجعي نه جوړېږي.

عن نافع، قال: قال ابن عمر: من طلق امرأته ثلاثا فقد عصى ربه، وبانت منه امرأته.(۲)

---

۱ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٦٦، تاليف هيئة كبا العلماء من السعودية

۲ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٦٧، تاليف هيئة كبا العلماء من السعودية

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپاړلسم دليل:

دجمهورو دمذهب داثبات لپاره شپاړلسم دليل فتوى دحضرت مغيره ابن شعبه رضى الله عنه ده نوحضرت مغيره بن شعبه رضى الله عنه فتوى ورکړې ده چې کوم سړى په يوې کلمې باندې درې طلاقه ورکړي نودادرې واړه واقع کېږي اوله دوئ نه يوطلاق رجعي نه جوړيږي.

عن شعبة عن طارق، عن قيس بن أبي حازم، أنه سمعه يحدث عن المغيرة بن شعبة أنه سئل عن رجل طلق امرأته مائة فقال: ثلاث يحرمنها عليه وسبعة وتسعون فضل.[1]

## ددوهم مذهب دلائل:

دوهم مذهب په باره ددرې طلاقوکې په لفظ واحداوکلمې واحدې سره مذهب ديوې ډلې دشيعه ګانو دى چې هغوئ ته اماميه ويل کېږي نو د دوئ مذهب دادى چې په يوې کلمې سره درې طلاقه ورکول نه واقع کېږي اوکوم سړى چې خپل ښځې ته ووايي چې ته دې په درې طلاقوباندې طلاقه يې نو په دې قول او وينا ددې سړي سره هيڅ طلاق نه واقع کېږي يعنې نه ورباندې يوطلاق واقع کېږي اونه ورباندې درې طلاقه اونه ورباندې دوه طلاقه واقع کېږي اودوئ ددې خپل مذهب داثبات لپاره استدلال کوي په دې وروسته دلائلو باندې.

---

۱ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٦٧، تاليف هيئة كبار العلماء من السعودية

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اول دليل:**

دامامیه ؤ دمذهب داثبات لپاره یودلیل هغه حدیث دی چې هغه روایت کړی دی امام احمدبن حنبل او امام ابوداود اوامام نسائی اوددې حدیث راوی حضرت عبدالله بن عمررضی الله عنه دی اوددې حدیث الفاظ چې په الفقه الاسلامی وادلته کې ذکردي هغه دادي.

ما أخرجه أحمد وأبو داود والنسائي عن ابن عمر بلفظ: «طلق عبد الله ابنُ عمر امرأته وهي حائض، قال عبد الله: فردها علي رسول الله صلّى الله عليه وسلم ولم يرها شيئاً». (۱)

طريقه داستدلال دامامیه په دې حدیث باندې داده چې مذهب دامامیه ؤ اوظاهریه ؤ اود ابن تیمیه اود ابن القیم داده چې کوم طلاق چې په حیض کې ورکړی شي هغه طلاق لغوه دی اوپه هغه سره دطلاق وقوع نه راځي اودوئ دځان لپاره دغه حدیث دعبدالله بن عمر رضی الله عنه دلیل گرځولی دی اوپه دې حدیث کې دوئ استدلال کوي په دې قول باندې چې: ولم یرهاشیئاً چې ددې مطلب دوئ دابیانوي چې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه وایي چې داکوم طلاق چې ماخپلې ښځې ته په حالت دحیض کې ورکړی وه داطلاق هېڅ شی پیغمبرصلی الله علیه وسلم ونه بللونوله دې نه معلومېږي چې کوم طلاق مېړه خپلې ښځې ته په حالت دحیض کې ورکړي هغه نه واقع کېږي.

---

۱ - الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصیة الباب الثانی انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ۹ ص ۶۹۲۴ طبع نشر احسان، طهران، ا.ا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو امامیه په همدغه حدیث باندې استدلال کوي په دې باندې چې درې طلاقه په یوه کلمه باندې واچول شي دانه واقع کېږي ځکه چې لکه څنګه چې دغه طلاق چې په حالت دحیض کې وي غیرمشروع دی نوهمدارنګه دغه طلاق چې په یوې کلمې سره درې طلاقه واچول شي هم غیرمشروع دي نودابه هم په مقتضی ددې وړاندې حدیث څه شی نه وي.

**له دې وړاندې حدیث نه درې جوابونه ورکړی شوي دي:**

اول جواب دادی چې په دې حدیث کې چې دازیادت موجود دی چې: ولم یرهاشیئاً نودا زیادت ابوالزبیرکړی دی اوپه دې زیادت کې ده مخالفت کړی دی له حفاظونه اوله هغوخلکونه چې هغوئ زیات ثقه دي نودازیادت منکردی.

دوهم جواب دادی چې استدلال په دې ولم یرهاشیئاً باندې په هغه وخت کې صحیح دی چې معنی هغه شی چې امامیه ؤ ذکرکړې ده او ابن عبدالبر چې دغه معنی یې نه ده بلکه معنی یې داده چې ولم یرهاشیئاً مستقیماً یعنې دایومستقیم شی نه دی ځکه چې له سنت طریقې سره برابره نه ده.

دریم جواب له دې وړاندې حدیث نه علامه خطابی کړې دی هغه وایي چې په دې وړاندې حدیث کې چې راغلي دي : ولم یرهاشیئاً ددې معنی داده چې ولم یرهاشیئاً تحرم معه المراجعه، اویایې معنی داده چې ولم یرهاشیئاً جائزاً فی السنة اومعنی یې دا نه ده چې داطلاق پیغمبرصلی الله علیه وسلم طلاق ونه ګرځولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونوقش بأنه قد أعل هذا الحديث بمخالفة أبي الزبير لسائر الحفاظ، وقال ابن عبد البر: قوله «ولم يرها شيئاً» : منكر لم يقله غير أبي الزبير، وليس بحجة فيما خالفه فيه مثله، فكيف إذا خالفه من هو أوثق منه، ولو صح فمعناه عندي - والله أعلم - ولم يرها شيئاً مستقيماً، لكونها لم تكن على السنة.

وقال الخطابي: وقد يحتمل أن يكون معناه: ولم يرها شيئاً تحرم معه المراجعة، أو لم يرها شيئاً جائزاً في السنة. (۱)

**دوهم دليل:**

لپاره د اثبات د مذهب د اماميه ؤ دوهم دليل حديث د حضرت عائشه رضی الله عنها دی.

قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ» الحديث. (۲)

او دا حديث امام مسلم هم روايت کړی دی او امام احمد بن حنبل هم روايت کړی دی او طريقه د استدلال په دې حديث باندې داسې ده چې د دې حديث مطلب دادی چې کوم شی مخالف وي له امر د شارع نه هغه مردود وي او خه اثر ورلره نه وي او شك نشته چې

---

۱ - الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانی انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج۹ ص ٦٩٢٤ طبع نشر احسان طهران ایران

۲ - الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانی انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج۹ ص ٦٩٢٤ طبع نشر احسان طهران ایران

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلاق ورکول په حالت دحيض کې او همدارنګه په يوې کلمې سره طلاق ورکول مخالف دي له امر دشارع نه نوداطلاق په حالت دحيض کې اوهمدارنګه په يوې کلمې سره درې طلاقه ورکول به هم مردود وي اوڅه اثر به ورته نه وي اوددې دليل داماميه ؤ نه داسې جواب ورکړی شوی دی چې يوشی په هغه صورت کې مردود کېږي چې دهغه شي رکن نه وي اويادهغه شي شرط نه وي اودا درې طلاقه چې په يوې کلمې سره ورکړی شي نوپه دې کې رکن هم نه وي منتفی اوهمدارنګه په دې کې شرط هم نه وي منتفی بلکه په دې کې فقط داوي چې په دې يوطلاق سره کارکېږي دې زيادت ددوهم اودريم طلاق ته حاجت نشته نوپه دې خبرې سره نه لازمېږي رد ددې طلاقوثلاثه ؤ په کلمې واحدې سره.

ونوقش بأن المردود هو بسبب مخالفة ركن أو شرط من أركان أو شروط العمل. وأما المخالفة بسبب تطويل العدة أو عدم وجود الحاجة إلى الطلاق، فليس أحدهما ركناً أو شرطاً للطلاق، فلا تستوجب الرد وعدم وقوع الطلاق. (١)

**دريم دليل:**

داماميه ؤ دمذهب داثبات لپاره دريم دليل دادی چې له دې درې طلاقونه په کلمه واحده سره منعه شوې ده په شريعت کې نودامملوك نه دی لپاره دمېړه اومېړه ته ددې طلاقوپه باره کې اذن او اجازه نه ده

---

١ - الفقه الاسلامي وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثاني انحلال الزواج واثاره البحث الثالث ج ٩ ص ٦٩٢٤ طبع نشر احسان طهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې نو دده د اطلاق نه واقع کېږي لکه څنګه چې د هغه وکيل طلاق نه واقع کېږي چې هغه مخالفت وکړي له مؤکل نه.

جواب له دې دليل نه دادی چې اثر په هغه شي نه مرتب کېږي چې هغه فاسدوي او دغه طلاق ثلاثه ؤ په کلمې واحدې سره خو فاسد نه دی ځکه چې منعه شوې ده او نهې شوې ده له دې نه نو هغه له وجهې د امر خارجي نه شوې چې زيادت دی چې دې زيادت ته حاجت نشته او چې له کوم شي نه نهې او منعه وشي له وجهې د امر خارجي نه هغه فاسد نه وي اثر ورباندې مرتب کېږي لکه بيع په وخت د اذن د جمعې کې نو له دې بيعې نه نهې او منعه چې شوې ده نو دا له وجهې د امر خارجي نه نه ده شوې نو فساد په کې نشته نو په دې طلاقو کې چې په کلمې واحدې سره هم فساد نشته نو اثر ورباندې مرتب کېږي چې وقوع د طلاقو دی.

دريم مذهب په وقوع د درې طلاقو کې په يوې کلمې سره، مذهب د يوې ډلې د شيعه ګانو دی چې زيديه دي او مذهب د ابن تيميه او د ابن اسحاق دی نو دوئ وايي چې که چېرته يو سړی په يوې کلمې سره درې طلاقه واچوي نو له دې نه درې طلاقه نه جوړېږي بلکه يو طلاق ورنه جوړېږي نو چې کله يو سړی خپلې ښځې ته ووايي چې ته دې طلاقه يې په درې طلاقو سره نو په نزد د اهل د دې دريم مذهب باندې د ښځه په درې طلاقو باندې نه واقع کېږي بلکه په يو طلاق سره طلاقه کېږي.

اودوئ د دې خپل مذهب د اثبات لپاره استدلال کړی دی په يو څو دلائلو سره چې هغه دلائل مونږ په دې مقام کې رانقل کوو او بېرته ورنه جواب کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اول دليل:**

دمذهب ثالث داثبات لپاره اول دليل داقول دخداى پاك دى.

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ فَاِمۡسَاكٌۢ بِمَعۡرُوۡفٍ اَوۡ تَسۡرِيۡحٌۢ بِاِحۡسَانٍ الآية.(۱)

اوطريقه داستدلال په دې آيت باندې داده چې په دې آيت کې لفظ دمرتان راغلى دئ چې دمرتان معنى داده چې داهرطلاق به له بل نه جداوي اودمرتان اودطلقتان په مابين کې دافرق دى چې طلقتان دلالت نه کوي په جداوالي باندې اومرتان دلالت کوي په جداوالي باندې اوله دې وجهې نه چې جداوالى راوفهمېږي نوځکه په دې آيت کې مرتان وويل شو اوطلقتان ونه ويل شو نوله دې آيت نه معلومېږي چې په شريعت کې هغه طلاق مشروع اوجائز دى چې په هغې کې جداوالى وي اوکوم طلاق چې جداوالى په کې نه وي اوپه يوې کلمې سره وي نوهغه غيرمشروع طلاق دى نوهغه به واقع نه وي.

**جواب:**

له دې وړاندې دليل ددې مذهب ثالث نه جواب ورکړى شوى دى په دې شان چې داآيت خوپه دې دلالت کوي چې مشروع طلاق اوجائز طلاق دادى چې په کې جداوالى اوتفريق وي اوپه دې آيت کې دې خبرې ته څه تعرض نشته چې آيادغه طلاق چې په يوې کلمې سره ورکړى شي واقع کېږي اوکه نه واقع کېږي نومشروعيت جداشى دى اووقوع جداشى دى نوله دې آيت نه فقط دارامعلومېږي چې جمعه کول دطلاقو په يوې کلمې کې غيرمشروع دى اومشروع اومباح دادي چې په طلاقوکې جداوالى اوتفريق وکړى شي اوهرچې وقوع اوعدم وقوع

---

۱ - سورة البقرة آيت ۲۲۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغو طلاقو دی چې جمعه کړی شوی وي نو دېته په دې آيت کې تعرض نشته نو په دې باره کې به رجوع کولی شي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم احاديثوته او له احاديثو د پيغمبرصلی الله عليه وسلم نه رامعلومېږي چې درې طلاقه چې جمعه کړی شي په يوه کلمه کې دا واقع کېږي.

قال العلامة الدكتوروهبة الزحيلي: ويرد عليه بأن الآية ترشد إلى الطلاق المشروع أو المباح، وليس فيها دلالة على وقوع الطلاق وعدم وقوعه إذا لم يكن مفرقاً، فيكون المرجع إلى السنة، والسنة بينت أن الطلاق الثلاث يقع ثلاثاً.[1]

نوله دې وړاندې کلام د علامه وهبة زحيلی نه رامعلومېږي چې په دې وړاندې آيت کې دې خبرې ته تعرض نه دی شوی چې درې طلاقه جمعه کړی شي او په يوې کلمې سره ورکړی شي دا واقع کېږي او که نه واقع کېږي نو په دې وقوع او عدم وقوع کې به رجوع کولی شي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم احاديثوته او احاديثو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ددې بيان کړی دی چې درې طلاقه جمعه کړي په کلمې واحدې سره نودا درې واړه واقع کېږي او يو طلاق ورنه نه جوړېږي.

او هغه احاديث چې له هغې دا راثابتېږي چې درې طلاقه جمعه کړی شي په کلمې واحدې سره نودرې واړه واقع کېږي زيات دي چې بعضې احاديث مونږ په دې مقام کې رانقل کوو.

---

۱ - الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثانی انحلال الزواج وآثاره ج۷ ص ۳۹۲ طبع مكتبه حقانيه پشاور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعبادة بن الصامت رضى الله عنه حديث:

وفي حديث عبادة بن الصامت رضي اللهَ تعالى عنه أن قوما جاءوا إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقالوا: «إن أبانا طلق امرأته ألفا، فقال صلى الله عليه وسلم: بانت امرأته بثلاث في معصية الله تعالى، وبقي تسعمائة وسبعة وتسعون وزرا في عنقه إلى يوم القيامة».(١)

له دې حديث نه دا رامعلومېږي چې درې طلاق په يوې کلمې سره چې ورکړی شي واقع کېږي اګرچې داكار معصيت او ګناه ده.

## دابوقتادة انصارى رضى الله عنه حديث:

وعن أبي قتادة الأنصاري رضي الله عنه قال: لو أن الناس طلقوا نساءهم كما أمروا لما فارق الرجل امرأته وله إليها حاجة، إن أحدكم يذهب فيطلق امرأته ثلاثا ثم يقعد فيعصر عينيه، مهلا مهلا بارك الله عليكم. فيكم كتاب الله وسنة رسوله، فماذا بعد كتاب الله وسنة رسوله إلا الضلال ورب الكعبة.(٢)

نوله دې حديث د حضرت ابوقتادة انصارى رضى الله عنه هم رامعلومېږي چې ښځې ته درې طلاقه ورکړی شي په يوې کلمې سره دا واقع کېږي.

---

١ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٩ تاليف هيئة كبار العلماء من السعودية

٢ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٩ تاليف هيئة كبار العلماء من السعودية

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه حدیث:

وروى الدارقطني بإسناده عن علي قال: سمع النبي صلى الله عليه وسلم رجلا طلق البتة فغضب وقال: «تتخذون آيات الله هزوا، أو دين الله هزوا ولعبا، من طلق البتة ألزمناه ثلاثا لا تحل له حتى تنكح زوجا غيره». (۱)

نوله دې حدیث دحضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه هم رامعلومېږي چې درې طلاقه په يوې کلمې باندې چې ورکړی شي واقع کېږي اګرچې په کې معصيت او ګناه موجوده ده.

## دوهم دليل:

د درېم مذهب د مدعیٰ د اثبات لپاره دوهم دليل حديث د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دی.

عن عكرمة مولى ابن عباس، عن ابن عباس قال: «طلق ركانة بن عبد يزيد أخو بني المطلب امرأته ثلاثا في مجلس واحد فحزن عليها حزنا شديدا، قال: فسأله رسول الله صلى الله عليه وسلم: كيف طلقتها، قال: طلقتها ثلاثا قال: فقال: في مجلس واحد قال: نعم، فقال: فإنما تلك واحدة فارجعها إن شئت. (۲)

نوله دې حديث نه ثابتېږي مدعیٰ د درېم مذهب چې درې طلاقه ورکړی شي په يوې کلمې سره نوله دې نه يو طلاق رجعي جوړېږي،

---

۱ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ۱۲ تاليف هيئة كبار العلماء من السعودية

۲ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٤٨ تاليف هيئة كبار العلماء من السعودية

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې په حديث کې د دې خبرې بيان شوی دی چې رکانة بن عبد يزيد درې طلاقه ورکړي وه خپلې ښځې ته په يوې کلمې سره او پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې دا يو طلاق دی او د دې رکانة بن عبد يزيد لپاره يې رجوع ثابته کړه.

**جواب:**

له دې حديث نه جواب ورکړی شوی دی چې د دې حديث راوي عبد الله بن عباس رضی الله عنهما دی او هغه د دې حديث خلاف فتوی ورکړې ده په دې شان چې هغه وايي چې درې طلاقه چې جمعه کړی شي او په يوې کلمې سره ورکړی شي نو له دې نه درې طلاقه جوړيږي او ښځه ورباندې مغلظه کيږي.

او هغه خلك چې هغوئ د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فتوی را نقل کړې ده هغوئ اته (۸) کسان دي.

۱- سعيد بن جبير رضی الله عنه.
۲- عطاء بن ابی رباح رضی الله عنه.
۳- مجاهد رضی الله عنه.
۴- عکرمة رضی الله عنه.
۵- عمرو بن دينار رضی الله عنه.
۶- مالك بن الحارث رضی الله عنه.
۷- محمد بن ابن اياس بن بكير رضی الله عنه.
۸- معاويه بن ابن عياش الانصاری رضی الله عنه.

**په مجلة البحوث الاسلاميه کې داسې راغلي دي:**

وقد أجيب عن هذه الرواية فقال البيهقي: إن هذا الإسناد لا تقوم به الحجة مع ثمانية رووا عن ابن عباس رضي الله عنهما فتياه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخلاف ذلك ومع رواية أولاد ركانة أن طلاق ركانة كان واحدة يعني البيهقي بأولئك الثمانية الذين رووا فتيا ابن عباس، بخلاف ذلك سعيد بن جبير وعطاء بن أبي رباح، ومجاهدا، وعكرمة، وعمرو بن دينار، ومالك ابن الحارث، ومحمد بن إياس ابن البكير ومعاوية بن أبي عياش الأنصاري. (۱)

## دحضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنه دفتوى الفاظ:

عن مجاهد، قال: «كنت عند ابن عباس، فجاءه رجل، فقال: إنه طلق امرأته ثلاثاً، فسكت حتى ظننت أنه ردها إليه، ثم قال: ينطلق أحدكم فيركب الحموقة، ثم يقول: يا ابن عباس، وإن الله قال: {ومن يتق الله يجعل له مخرجاً} [الطلاق:۲/٦٥] ، وإنك لم تتق الله، فلم أجد لك مخرجاً، عصيت ربك، وبانت منك امرأتك». (۲)

## دريم دليل:

لپاره داثبات دمدعى دمذهب ثالث دريم دليل حديث دحضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنه دى چې هغه حديث په الفقه الاسلامى وادلته كې په دې الفاظو سره ذكردى.

حديث ابن عباس قال: «كان الطلاق على عهد رسول الله صلّى الله عليه وسلم وأبي بكر وسنتين من خلافة عمر، طلاقُ الثلاث

---

۱ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٤٨ ، ٤٩،تاليف هيئة كبارالعلماء من السعودية

۲ - الفقه الاسلامى وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثامن انحلال الزواج وآثاره البحث الثالث ج ۹ص ٦۹۳۳ طبع نشر احسان طهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library


واحدة، فقال عمر بن الخطاب: إن الناس قد استعجلوا في أمر كانت لهم فيه أناة، فلو أمضيناه عليه، فأمضاه عليهم».

رواه احمد ومسلم عن طاوس عن ابن عباس نيل الاوطار ٢٣٠/٦. (١)

او طريقه د استدلال د اهل د دې مذهب ثالث په دې حديث باندې داده چې دوئ وايي چې له دې حديث نه معلومېږي چې اصل حکم داوه چې درې طلاقه جمعه کړی شي په يوه کلمه کې نوله دې نه يو طلاق جوړېږي او دا حکم منسوخ هم نه دی او عمل ور باندې روان وه په زمانه د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه او په اولو دوه کالو د حکومت د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه کې او بيا ورو سته ورنه درې طلاقه جوړ کړی شو او دا درې طلاقه ورنه جوړول په طريقې د مصلحت او سياست سره او دا حکم شرعي نه وه او حکم شرعي داوه چې يو طلاق ورنه جوړېږي.

قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: فهو واضح الدلالة على جعل الطلاق الثلاث بلفظ واحد طلقة واحدة، وعلى أنه لم ينسخ لاستمرار العمل به في عهد أبي بكر وسنتين من خلافة عمر، ولأن عمر أمضاه من باب المصلحة والسياسة الشرعية. (٢)

---

١- الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثامن انحلال الزواج وآثاره البحث الثالث ج٧ص ٣٩٢ طبع مكتبه حقانيه پشاور.
٢- الفقه الاسلامی وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثامن انحلال الزواج وآثاره البحث الثالث ج٧ص ٣٩٢ طبع مكتبه حقانيه پشاور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب:**

له دې وړاندې دليل دمذهب ثالث نه جواب دادی چې له دې حديث نه يوخاص صورت مراد دی چې هغه صورت دادی چې يوسړی درې ځل انت طالق ووايي اودده قصد دتاكيد وي نوله دې نه يوطلاق جوړيږي البته چې كله داسړی قصدوكړي ددرې طلاقو دواقع كيدو نو بياورنه درې طلاقه جوړيږي نوپه زمانه دپيغمبرصلی الله عليه وسلم كې اوپه زمانه دحكومت دحضرت ابوبكرصديق رضی الله عنه كې او همدارنګه په اول دخلافت دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه كې خلك رښتياويوونكي وه اوفريب په كې نه وه موجود نوچې ديوسړي به درې ځل انت طالق خپلې ښځې ته وويل اوبيابه دې سړي وويل چې زما قصدپه دې درې ځلوويلوسره تاكيد وه اوزماقصد دانه وه چې درې طلاقه دې واقع شي نوله ده سره به داخبره منل كيده اوبياوروسته په خلكو كې دروغ اوفريب پيداشو اويوسړي به انت طالق درې ځلې وويل اودده نيت به ددرې طلاقو وقوع وه اوده به په خوله ويل چې زما قصد او اراده دتاكيدوه نوله دې وجهې نه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه به درې طلاقه واقع بلل په حق دهغه سړي كې چې هغه به انت طالق درې ځلې وويل. اوددې سړي داخبره به نه منل كيده چې هغه به ويل چې زمامراد تاكيد وه اوزمامراد دانه وه چې درې طلاقه دې واقع شي.

نوله دې حديث دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه دانه رامعلوميږي چې درې طلاقه په يوه كلمه باندې ورکړی شي نوله دېنه يوطلاق جوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال العلامة الدكتوروهبة الزحيلي: وأجيب عنه بأنه محمول على صورة تكرير لفظ الطلاق ثلاث مرات، بأن يقول: (أنت طالق، أنت طالق، أنت طالق) فإنه يلزمه واحدة إذا قصد التوكيد، وثلاث إذا قصد تكرير الإيقاع، فكان الناس على عهد رسول الله صلّى الله عليه وسلم وأبي بكر على صدقهم وسلامتهم وقصدهم في الغالب الفضيلة والاختيار، لم يظهر فيهم خب ولا خداع، وكانوا يصدقون في إرادة التوكيد، فلما رأى عمر في زمانه أموراً ظهرت، وأحوالاً تغيرت، وفشا إيقاع الثلاث جملة بلفظ لا يحتمل التأويل، ألزمهم الثلاث في صورة التكرير، إذ صار الغالب عليهم قصدها، وقد أشار إليه بقوله: «إن الناس قد استعجلوا في أمر كانت لهم فيه أناة». [١]

**دابن تيميه او ابن القيم اعتراف او اقرار چې درې طلاقه واقع کېدل چې په يوې کلمې سره ورکړى شي داکثروصحابه ؤ مذهب دی.**

دامسئله چې کله يو سړی په يوې کلمې سره درې طلاقه ورکړي نوله دې نه درې طلاقه جوړېږي اودرې واړه واقع کېږي اګرچې اختلافي مسئله ده قديماً اوحديثاً خولېکن داکثرو صحابه کرامو مذهب دا وه چې يوسړی په يوې کلمې سره درې طلاقه ورکړي خپلې ښځې ته نودرې طلاقه ورنه جوړېږي اوددې خبرې اعتراف او اقرار علامه ابن تيميه اودهغه شاګرد علامه ابن القيم کړی دی نودوئ

١ - الفقه الاسلامي وادلته القسم السادس الاحوال الشخصية الباب الثامن انحلال الزواج وآثاره البحث الثالث ج٧ ص ٣٩٢ طبع مكتبه حقانيه پشاورپاکستان

دواړه اګرچې په دې مسئله کې داخبره کوي چې درې طلاقه په يوې کلمې سره ورکړی شي نوله دې نه يوطلاق جوړېږي خولېکن بياهم دوئ دواړو اقرار او اعتراف کړی دی چې داکثرو صحابه کرامو مذهب دادی چې په يوې کلمې سره درې طلاقه ورکړی شي نوله دې نه درې طلاقه جوړېږي اوددوئ دواړو قولونه په مجلة البحوث الاسلاميه کې رانقل کړی شوي دي په دې لاندې الفاظوسره.

وقال شيخ الإسلام في أثناء الكلام على بيان المذاهب في ذلك الثاني أنه طلاق محرم لازم وهو قول مالك، وأبي حنيفة، وأحمد في الرواية المتأخرة عنه، اختارها أكثر أصحابه وهذا قول منقول عن كثير من السلف من الصحابة والتابعين. (١)

نوپه دې وړاندې عبارت کې مرادله شيخ الاسلام نه علامه ابن تيميه دی اودده په دې عبارت کې چې داويل شوي دي چې انه طلاق محرم لازم نوددې مراد دادی چې داکوم درې طلاق چې په يوې کلمې سره ورکړی شوي دي نودادرې واړه واقع کېږي اوداښځه حراموي په خپل مېړه باندې نوعلامه ابن تيميه وايي چې داواقع کېدل ددرې طلاقو چې کله ورکړی شي په کلمې واحدې سره دامذهب داکثرو صحابه کرامو اوتابعينو دی.

---

(١) حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٣١ تاليف هيئة كبار العلماء من السعودية.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقال ابن القيم: فاختلف الناس فيها أي وقوع الثلاث بكلمة واحدة على أربعة مذاهب: أحدها: أنه يقع وهذا قول الأئمة الأربعة وجمهور التابعين، وكثير من الصحابة. (١)

## دعلماؤ اقوال:

دامت لوی او اکابر علماء ددې خبرې قائل دي چې کله يوسړی په يوې کلمې سره درې طلاقه واچوي نوله دې نه درې طلاقه جوړيږي اودابنځه مغلظه کرځي اودامذهب داکثرو اوجمهورو صحابه کرامو اوتابعينو دی اوپه دې مقام کې مونږ دبعضو علماء کرامو اقوال رانقل کوو.

## دعلامه ابن الهمام قول:

علامه ابن الهمام ويلي دي چې کله يوسړی په يوې کلمې سره درې طلاقه ورکړي نودادرې واړه واقع کيږي دامذهب دجمهورو صحابه کرامو اوتابعينو اود هغه آيمه ؤ دی چې له دوئ نه بعد تيرشوي دي.

وقال ابن الهمام: وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من أئمة المسلمين إلى أنه يقع ثلاثا. (٢)

١ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٣١ تاليف هيئة كبارالعلماء من السعودية

٢ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٣٠ تاليف هيئة كبارالعلماء من السعودية

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دسحنون بن سعيد التنوخي مالکی رحمه الله قول:

علامه سحنون بن سعيد التنوخي مالکی رحمه الله په مالیکه ؤ په خپله زمانه کې امام دمالکيه ؤ تیرشوی دی هغه وايي چې دامام مالك رحمه الله مذهب داوه چې کله يوسړی په يوې کلمې سره درې طلاقه واچوي نوله دېنه درې طلاقه جوړېږي اودا درې واړه طلاقه واقع کېږي.

وقال سحنون بن سعيد التنوخي: قلت : أرأيت إن طلقها ثلاثا وهي حامل في مجلس واحد أو مجالس شتى، أيلزمه ذلك أم لا؟ قال: قال مالك يلزمه ذلك.[1]

## دامام قرطبي رحمه الله قول:

امام قرطبي رحمه الله وايي: چې سړی په يوې کلمې سره خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي نوله دېنه درې طلاقه جوړېږي اودا ښځه وربانديې مغلظه ګرځي دامذهب دجمهور دسلفو دی.

قَالَ الْقُرْطُبي: قَالَ عُلَمَاؤُنَا: وَاتَّفَقَ أَئِمَّةُ الْفَتْوَى عَلَى لُزُومِ إِيقَاعِ الطَّلَاقِ الثَّلَاثِ فِي كَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ، وَهُوَ قَوْلُ جُمْهُورِ السَّلَفِ.[2]

تمت بالخير

تاریخ تالیف: ۲۰۱۵ عیسوي.

مقام تالیف: دارالعلوم ابوبکرصدیق رضی الله عنه پروژه تایمني کابل افغانستان.

---

١ - مجلة البحوث الاسلامية حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد ص ٣٠ تاليف هيئة كبار العلماء من السعودية

٢ - تفسير قرطبي ج ٢ ص ١٢٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دكتاب دمضامينو فهرست


دطلاقو تقسيم ........................................ ۱

مذهب دفقهاؤ الاحناف په تقسيم دطلاقوکې: ........................ ۱

احسن طلاق: ........................................ ۲

حسن طلاق: ........................................ ۳

بدعي طلاق: ........................................ ۴

مذهب دجمهورو په تقسيم دطلاقوکې: ........................ ۶

بعضې صورتونه له بدعي طلاق نه خارجول: ........................ ۷

په بعضو صورتونوکې اختلاف په سني توب اوبدعي توب دطلاقوکې: ... ۸

وجه لپاره د کېدلو د بعضو صورتونو د طلاق سني او بعضو بدعي: ..... ۱۰

په يوې کلمې سره ددرې طلاقو واقع کېدل: ........................ ۱۳

داول مذهب دلائل: ........................................ ۱۵

اول دليل: ........................................ ۱۵

دوهم دليل: ........................................ ۱۷

دريم دليل: ........................................ ۱۸

څلورم دليل: ........................................ ۱۸

پنځم دليل: ........................................ ۱۹

شپږم دليل: ........................................ ۲۰

اووم دليل: ........................................ ۲۱

اتم دليل: ........................................ ۲۱

نهم دليل: ........................................ ۲۲

لسم دليل: ........................................ ۲۳

يوولسم دليل: ........................................ ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولسم دليل: ........................................ ۲۴
ديارلسم دليل: ........................................ ۲۵
څوارلسم دليل: ........................................ ۲۵
پنځلسمّ دليل: ........................................ ۲۶
شپاړلسم دليل: ........................................ ۲۷
ددوهم مذهب دلائل: ........................................ ۲۷
اول دليل: ........................................ ۲۸
دوهم دليل: ........................................ ۳۰
دريم دليل: ........................................ ۳۱
اول دليل: ........................................ ۳۳
جواب: ........................................ ۳۳
دعبادة بن الصامت رضی الله عنه حديث: ........................................ ۳۵
دابوقتادة انصاری رضی الله عنه حديث: ........................................ ۳۵
دحضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه حديث: ........................................ ۳۶
دوهم دليل: ........................................ ۳۶
جواب: ........................................ ۳۷
دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دفتوی الفاظ: ........................................ ۳۸
دريم دليل: ........................................ ۳۸
جواب: ........................................ ۴۰
دعلماؤ اقوال: ........................................ ۴۳
دعلامه ابن الهمام قول: ........................................ ۴۳
دسحنون بن سعيد التنوخي مالکی رحمه الله قول: ........................................ ۴۴
دامام قرطبي رحمه الله قول: ........................................ ۴۴

# تصنیفات

## شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتی محمد زاهد (عزیز خیل)


۱. الدرالمکنون (عربی)
۲. مسائل میلادالنبی (فارسی)
۳. اجرت گرفتن بر تلاوت مجرده (فارسی)
۴. دجمعې دلمونځ مسائل (پښتو)
۵. مسائل نماز جمعه (فارسی)
۶. القول الحصین فی الانتفاع بالرهین (فارسی)
۷. القول الحصین فی الانتفاع بالرهین (پښتو)
۸. دطلاقو مسائل (پښتو)
۹. مسائل طلاق (فارسی)
۱۰. دسود مسائل (پښتو)
۱۱. مسائل سود (فارسی)
۱۲. دعقیقې مسائل (پښتو)
۱۳. مسائل عقیقه (فارسی)
۱۴. د شهید مسائل (پښتو)
۱۵. مسائل شهید (فارسی)
۱۶. دسجده سهوې مسائل (پښتو)
۱۷. مسائل سجده سهوه (فارسی)
۱۸. داخترونو دلمونځ مسائل ([illegible])
۱۹. مسائل نماز عید (فارسی)
۲۰. داقامت مسائل (پښتو)
۲۱. مسائل امامت ([illegible])
۲۲. دسجده تلاوت مسائل [illegible]
۲۳. مسائل سجده تلاوت [illegible]
۲۴. [illegible]
۲۵. مسائل [illegible]
۲۶. دنکاح [illegible]
۲۷. [illegible]
۲۸. [illegible]
۲۹. [illegible]
۳۰. مسائل رضاعت [illegible]
۳۱. [illegible]
۳۲. [illegible] (پښتو)
۳۳. خوردن سود در دار الحرب (فارسی)
۳۴. د حیله اسقاط مسائل (پښتو)
۳۵. مسائل حیله اسقاط (فارسی)
۳۶. داعتکاف مسائل (پښتو)
۳۷. مسائل اعتکاف (فارسی)
۳۸. دکفارتو مسائل (پښتو)
۳۹. مسائل کفارات (فارسی)
۴۰. دښځې او میړه حقوق (پښتو)
۴۱. حقوق زن و شوهر (فارسی)
۴۲. دقرائت مسائل (پښتو)
۴۳. مسائل قرائت (فارسی)
۴۳. دعکس او تصویر مسائل پښتو (پښتو)
۴۵. مسائل عکس و تصویر (فارسی)
۴۶. دحیض او نفاس مسائل (پښتو)
۴۷. مسائل حیض و نفاس (فارسی)
۴۸. مسائل تداوی و علاج (فارسی)
۴۹: د تداوی او علاج مسائل (پښتو)
۵۰: ایضاح المرام شرح مجلة الاحکام (عربی)
۵۱: دتراویحو دلمانځه مسائل پښتو
۵۲: مسائل نماز تراویح فارسی
۵۳: دجنازې دلمانځه مسائل پښتو
۵۴: مسائل نماز جنازه فارسی
۵۵: دعُشر مسائل پښتو
۵۶: مسائل عُشر فارسی
۵۷: دمضاربت مسائل پښتو
۵۸: مسائل مضاربت فارسی
۵۹: دقرض مسائل پښتو
۶۰: مسائل قرض فارسی
۶۱: دروژې مفسدات او مکروهات پښتو
۶۲: مفسدات ومکروهات روزه فارسی
۶۳: دغسل مسائل پښتو
۶۴: د[illegible] مسائل پښتو
۶۵: دزکوٰة مسائل پښتو
۶۶: د[illegible] مسائل پښتو
۶۷: دقربانۍ مسائل پښتو
۶۸: دصدقه فطر مسائل پښتو
۶۹: د جائز او ناجائز خرید او فروخت مسائل پښتو
۷۰: مسائل خرید وفروخت جائز و ناجائز فارسی
۷۱: مسائل غسل فارسی
۷۲: مسائل [illegible] فارسی
۷۳: مسائل زکوٰة فارسی
۷۴: مسائل [illegible] فارسی
۷۵: مسائل قربانی فارسی
۷۶: مسائل صدقه فطر فارسی
۷۷: [illegible] مسائل پښتو
۷۸: مسائل [illegible] فارسی
۷۹: [illegible] مسائل پښتو
۸۰: مسائل [illegible] فارسی
۸۱: [illegible] مسائل پښتو
۸۲: مسائل [illegible] فارسی
۸۳: [illegible] مسائل پښتو
۸۴: مسائل [illegible] فارسی
۸۵: [illegible] پښتو
۸۶: [illegible] فارسی
۸۷: [illegible] مسائل پښتو
۸۸: مسائل کفاره قسم فارسی
۸۹: دتیمم مسائل پښتو
۹۰: مسائل تیمم فارسی
۹۱ دافیمو مسائل پښتو
۹۲ مسائل افیم فارسی
۹۳ دتمباکو داستعمال مسائل پښتو
۹۴ مسائل استعمال تمباکو فارسی
۹۵ دخوراک او چښاک مسائل پښتو
۹۶ مسائل خوردن و نوشیدن فارسی
۹۷ دسلام اچولو مسائل پښتو
۹۸ مسائل سلام دادان فارسی
۹۹ دحلالولو مسائل پښتو
۱۰۰ مسائل ذبح کردن فارسی


اعراف

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**